څوک چې په ورځ کې سل ځلې (سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ)، ووايي، يعنې خاص الله لره پاکي او ستاينه ده، نو د هغه ګناهونه به توی شي، که څه هم د سمندر د ځګ په څېر وي

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: "څوک چې په ورځ کې سل ځلې (سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ)، ووايي، يعنې خاص الله لره پاکي او ستاينه ده، نو د هغه ګناهونه به توی شي، که څه هم د سمندر د ځګ په څېر وي".

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي، څوک چې په ورځ کې سل ځلې «سبحان الله و بحمده»: ووايي؛ د هغه ګناهونه به وبخښل شي او له مينځه به لاړ شي، که څه هم د سمندر د پاسه د سپين ځګ په څېر زيات وي؛ کله چې په څپو او هيجان راشي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5516